# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## وزه، سپی او غوا


Fabian Wakholi
Marleen Visser, Ingrid Schechter
Darakhte Danesh



This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0


# وزه، سپی او غوا





Fabian Wakholi
Marleen Visser, Ingrid Schechter
Darakhte Danesh


2

پښتو ps




وزه، سپی او غوا ډېر ښه ملګري وو. یوه ورځ هغوی په یوه ټکسي کې په سفر تلل.




کله چې د هغوی سفر پای ته ورسیده، موټرچلوونکی له هغوی څخه کرایه وغوښتله. غوا خپله کرایه ورکړه.



سپي غټې روپۍ (لوټ) ورکړې ځکه چې
له هغه سره ټاکل شوې اندازه روپۍ نه
وې.





او غوا د موټر په ليدو سره هېڅ ستونزه
نه لري او سړک څخه په تېريدلو کې هم
بېړه نه کوي، ځکه چې هغې خپله کرايه
بشپړه ورکړې وه.



موټر چلوونکي غوښتل چې سپي ته
پاتې شوې روپۍ بېرته ورکړي خو په
همدې وخت کې وزې پرته له کرايه
ورکولو منډې کړې او لاړه.





وزه د موټر دغږ په اورېدو سره لرې
تښتي او دا ويره لري چې د کرايې نه
ورکولو له امله به ونيول شي.



موټر چلوونکي د وزې له دغه عمل څخه
ډېر خواشينى شو او پرته له دې چې د
سپي پاتې شوې روپۍ ورکړي وتښتېده.





نو د همدې امله نن سپي د موټرو پسې
منډې وهي چې دننه وګوري او هغه
موټرچلوونکی چې روپۍ يې ورسره پاتې
دي ومومي.